United Nations Nations Unies

**UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN**
**UNAMA**

# ساختارونه باید په افغانستان کې سیمه سره راټوله کړي څو اقتصادي وده رامنځ ته شي

د عمومي منشي خاص استازی، کای ایډي د افغانستان په باب د ۸ هیوادونو په غونډه کې د ایټالیا په تریستي کې په افغانستان کې د بنیادي ساختارونو په پروژو باندې زور واچاوه، ده وویل چې داسې پروژې به "سیمې یو له بل سره وتړي او اقتصادي وده به وهڅوي" ده زیاته کړه چې "تر نن ورځې د اقتصادي ودې زیاته اندازه د دونرانو له سرچینو څخه راوځي. موږ ټول په دې پوهیږو چې دغه سرچینې دایمې نه دي. افغانستان باید د شتمنې خپلې هغې پیدا کړي."

د ترانسپورت په ساختارونو کې پرمختګ "د اقتصادي ودې لپاره تر ټولو یو مهم شرط دی"

د ټرانسپورت په برخه کې پانګه اچونه به "دغه ملک په سیمه کې د یوه مانع له حیثیت څخه په یوه ځمکنی پل باندې مبدل کړی چې جنسونه به له ختیځ- له هند او پاکستان څخه د افغانستان له لارې شمال یا لویدیځ ته انتقال شي."

په دې کار سره به د افغان دولت لپاره مالیاتي سرچینې پیدا شي او ټولې سیمې لپاره سوداګریزې اسانتیاوې زیاتې کړي چې اقتصادي وده او د کار فرصتونه به زیات کړي. ده وویل چې دوه د ریل خطونه پلان شوی دي، چې یو له شمال څخه طورخم پورې او بل له ایران څخه شمال ختیځ پورې دی. ده ډونرانو ته معلومات ورکړل او و یې وویل چې "څه شي چې موږ له تاسې څخه غواړو هغه دا ده چې تاسې تشې ډکې کړئ."

د ټرانسپورت په برخه کې د ساختارونو په جوړولو سره به افغانستان وکولای شي چې خپلو طبیعي زیرمو ته پراختیا ورکړي.

"افغانستان یو نیستمن هیواد دی، مګر ضروري نه ده چې نیستمن پاتې شي." پلان شوې د ری خطونه د اوسنیو د اوسپنې له زیرمو سره یو ځای پرمختګ وکړي چې په اقتصادي ډول د هغو ایستل ممکن وګرځوي.

نوموړی همدارنګه د انرژي په سکتور کې د پانګونې لپاره هم غږ وکړ، او یادونه یې وکړه چې د انرژي د انتقال د خط د غځولو څخه د مرکزي آسیا د انرژي لرونکو هیوادونو ته افغانستان او پاکستان ته چې زیاتې انرژي ته ضرورت لري، ټولې سیمې ته هم زیاته ګټه ورسیږي. د بریښنا زیات تدارک به د هیواد د وګړو د ژوند کچه ښه کړي او همدارنګه به اقتصادي پراختیا رامنځ ته کړي.

د ترانسپورت او بریښنا د اضافي زیربنا سره به هغه پانګونه چې اوس مهال د اقتصادي لحاظه غیر عملي دی عملي بڼه اختیار کړي. د دغو پروژو راتلونکی اقتصادي ارزښت په دې مانا دی چې کیدای شي دا پروژې د پورونو او اعتبارونو له لارې تمویل شي.

سره له دې هم د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی دا جوته کړی چې د دا ډول پروژو انکشاف یوه ستراتیژیک لرلید ته چې وکولای شي اوږد مهاله مودې ته نظر واچوي ضرورت لري. نوموړي زیاته کړه: "د پروژو په هکله د پریکړو د ښولو او د یوه چټک تاثیر د سرچینې په لور د حرکت په موخه موږ باید هغو کارونو ته انتظار و نه باسو چې پایلې یې لنډې وي. موږ باید هلته نظر واچوو چیرې چې د افغانستان ستراتیژیکې سرچینې او د ودې لپاره زیاتې د امید څخه ډکې هیلې موجودې وي."

په پای کې نوموړي همدارنګه زیاته کړه "په سترو پروژو کې پانګونه به د هیواد لپاره پایداره اقتصادي پراختیا او سیمه به په دواړو لنډ مهاله او اوږد مهالو مودو کې اقتصادي او سیاسی عایدات له ځانه سره راوړی."

د تریستي په ښار کې د جولای د میاشتې د ۲۵ او ۲۶ ناستې به د افغانستان او د هغه سیمه ییز بعدونود اهمیت په اړوند متمرکزی وي. په دې ناسته کې د جي ۸ هیوادونو د بهرنیو چارو وزیران او همدارنګه د افغانستان، پاکستان او د سیمې د نورو هیوادونو وزیران او د افغانستان د پراختیا همکاران راغونډ شوی وه.